لومړۍ کچه

# مبشر جان خپل ژوند بدل کړ

education above all
التعليم فوق الجميع




**لیکوال:** ګاډ فري میشومري
**انځور ګر:** ایوب مکوثه

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire


Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .

زما نوم مبشرجان ده. تیر کال زه په خپل ټولګي کې آخر نمره شوم.
زما ټولګیوالو پر ما ملنډې ووهلې او ماته یې ویل چې تل به وروسته پاتې وې.





زمونږ ښوونکې وویل: ”مبشرجانه ولې په دې فکر نه کوې چې ولې آخر نمره شوې؟“



ما ډیر فکر وکړ چې ولې زه آخر نمره شوم؟
ما تصمیم ونیوه چې نورو زده کوونکو ته وګورم چې هغوی څه کوي.
ډیر ښه!
هغوی کتابونه لولي، درس لیکي او مطالعه کوي.



ما مې خپلې مور ته وويل: " مورې زه غواړم په خپل ټولګي کې ښه فعالیت وکړم."

مور مې وويل: " ته ښه فعالیت کولی شې."


هغې وويل: "ته باید خپل وخت منظم کړې. او هر څه لپاره باید وخت وټاکې لکه؛ د مطالعې لپاره، د لوبې لپاره او د کور کارونو لپاره."

په همدغه ماښام ما خپل کتابونه را واخیستل او مطالعه مې پیل کړه. زما خورکۍ هم له ما سره مرسته وکړه.






مور مې وويل:
”خپل کتابونه ولوله، کورنۍ دنده دې سرته ورسوه او خپلو ښوونکو څخه وغواړه چې مرسته در سره وکړي.“



هرڅومره چې لولم همدومره مې د لوستلو مهارت لوړېږي.

او ما خپل درسونه له خپلو ملګرو متو جانې او جونو جان سره ښه ولوستل.

زه ښه زړه ور شوم او کله به مې چې کومه پوښتنه درلوده له خپلو ښوونکو څخه مې پوښتنه کوله.
ښوونکي زما له پرمختګ څخه ډېر خوښ وو.
هغوی به ویل: " آفرین مبشرجانه!"







یوه ورځ مو آزموینه درلوده او کله
چې پایله اعلان شوه، نور نو زه
آخر نمره نه وم.



زه په خپل ټولګي کې تر ټولو خوښ زده کوونکی کې وم.
او ما خپل ځان سره وویل: " زه کولای شم."
له هغې وروسته مې تصمیم ونیوه چې لا ډیره مطالعه وکړم.




ښوونکي وروستۍ پايلې اعلان کړې. دريم نمره متو جانه وه، دويم نمره جونو جان وو نو فکر وکړئ چې اول نمره به څوک وي؟



"اول نمره مبشرجان دی!"




زمونږ ښوونکې ماته کتابونه او د ښوونځي بیک ډالۍ کړ.
ښوونکې مو وویل: ”آیا خپلو ملګرو ته څه ویل لرې؟“
ما وویل: ”هو، ملګرو تاسو هم کولی شئ چې ښې پایلې تر لاسه کړئ، که چیرته وغواړئ.
زه آخر نمره وم او اوس اول نمره شوم، دا ټول زما د زیار او د ملګرو مرسته وه.“



کله چې زه کور ته لاړم، مور مې زما خوښه څیره ولیده نو پوه شوه چې هرومرو څه ښه خبره شته.
هغې وویل: ”مبشرجان ټول له خندا ډک یې، وایه څه خبره ده چې دومره خوښ یې؟“
ما ورته وویل: ”هو، زه په خپل ټولګي کې اول نمره شوی یم؛ دا نوي بیک او کتابو ته مې نه ګوري!“
له دې وروسته زه تل زیار باسم او ښه کوښښ کوم.

# لارښودونکې پوښتنې

1. مبشرجان د خپل ژوند د بدلون لپاره څه وکړل؟
2. هاغه څلور څیزونه ووایاست چې مبشرجان د خپل پرمختګ لپاره وکړل؟
3. آیا کوم هدف لرې چې غواړئ ورته ورسیږئ؟ دغه هدف ته د رسیدو لپاره څه کولی شئ؟
4. کله چې دغه هدف ته ورسیږئ، څه احساس به وکړئ؟ آیا مبشرجان هم ستاسو په شان احساس درلود، کله چې تاسو لومړي ځل لپاره ټولګي ته راغلئ؟
5. تاسو د مبشرجان د شخصیت په اړه څه وایاست؟